ليکوال : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ نېټه ۱۵-۱۱-۲۰۱۰

# ديرش کلنه جګړه کې د افغان ماشومانو حقوقي وضيعت

## سريزه :

د نړۍ په وروسته پاتي هيوادوکې او په تيره بيا په هغو ټولنو کې چې سياسي وسله وال کړکېچونه اوجګړې رواني دي د ماشوم حقوق تر پښو لاندې شوې او لاندې کيږي . په داسي حال کې چې ماشوم د خپل د زيږيدو له مهاله بيا ترماشومتوب د دورې تر تيرولو پورې په ټولنه کې ځيني خاص ځانګړي بنسټيزحقوق لري . دماشوم حقوقو ته بايد د کورنيو او اړوند دولتونو له خواپه ټولنه کې خاصه پاملرنه و شي . په دغو حقوقو کې دماشومانو ځاني ، روحي اودښووني اوروزنې حقوق شامل دي، د مسوولو کسانو له خوا بايد د ښه والي او ودې لپاره شرايط برابره کړل شي . ماشومان زموږ د ټولنې يوه خورا حساسه او زيانمنيدونکې برخه ده .
کورنې دي چې دسله وال کړکېچونو دروند بار په خپلو اوږو وړي .۹۰ په سلو کې د جګړې قربانيان ملکيان دي ، له دغې جملې څخه ۴۰ سلنې قربانيان ماشومان دي . ماشومان د جګړې اصلې بايلونکې دي .ماشومان نه يواځې له دې امله ځوريږي چې دوی دجګړې په حالت کې د ملکې وګړو يوه خوږمنه برخه ده، بلکې د ننيو جګړو په جوړښت او بهير کې پر ماشومتوب باندې بريد هم د جګړه مارو ډلو له خوا د جګړو په پلانونو کې پلانيږي . په وسلوالو کړکېچونوکې تل د ماشومانو په حقوقو باندې د انساني ،اسلامي ، او مدني معيارنو خلاف تيرې شوي دی . دا غير انساني تيرې دماشوم په ژوند کې يو تور روحي داغ وي تر څوچې دی ژوندې وي .
په ټوله نړۍ کې اټکل يو ميليارد کوچينيان په هغه هيوادو کې لويږي چې هغه کې وسله وال کړکېچونه روان دي . دا د نړۍ هر دويم ماشوم دی . په ټوله نړۍ کې د څلويښتو ميليونو څخه ډير خلک او ماشومان دنورو هيوادو کدوالې ته مجبور شوي دي .د دوی له حقوقو څخه هلته هم سمه ساتنه نه کيږي .د دوی حقوق دجدي ګواښ سره مخامخ دي.
زموږ په جګړه ځپلي هيواد کې د دريو لسيزو را پديخوا د انسان يا افغان وژنې او وينی بهيدو بهير په ډير شدت سره روان دی . تر اوسه په زرګونه بيګناه ملکی افغانان،ماشومان،سپين ږيرې او ښځو په ګډون په دې نا پايه جګړه کې وژل شوي او وژل کيږي . د جګړې دواړې غاړې په دې روان جګړيزو بهير کې د بيګناه ملکيانو په تير ه بيا د ماشومانو ژوند ته هيڅ پاملرنه نه کوي .
دنن ورځو جګړوپه پراخه کچه ماشومانوته جسمي ،روحي ،مادي او معنوي تاوانونه اړولې دي .
موږ څنګه لارې چارې موندلې شو چې د جګړې په حالت کې د ماشومانو حقوق خوندې کړو . يونيسف د ملګروملتو م م يوه څانګه ده چې په وسله والو کړکېچونو کې د ماشونانو له حقوقو څخه غږ پورته کوي . د
يونيسف يوه ستراتيجې دا هم ده چې د جګړو په حالت کې د ماشومانو د حقوقو ساتنه وکړي .
دملګرو ملتو په يو منشور کې د ماشومانو په اړ ه چې د ټولې نړۍ له خوا منل شوي هم دی داسي راغلې دي، دټولنې مسووليت په جګړه اوپه سوله کې دا دی چې لارې چارې وومومي تر څو د ماشومانو اړتياوې پوره کړي او دحقوقو ساتنه وکړي او خوندې يې کړي . دغه چار کومه اسانه دنده هم نه ده او تل له خنډونو سره مل وي .

### ۱ . د ماشومانودحقوقو ودې تاريخ ته يوه لنډه کتنه

له حقوقي اړخه لويديځ کې د نونسمې پيړۍ تر پيله په کورنۍ چاپيريال کې ماشوم ته د کور يو حيوان په څير کتل کيده. ماشوم د خپل پلار يو مطلق ملکيت وو.هيڅ ډول قانوني حقوق يې نه درلودل او د دولتونو له خوا پاملرنه ،ساتنه او پالنه يې هم نه کيده. کله چې په نونسمه پيړۍ کې ښوونځې جبري شو ل، دولتونه مجبور شول يتيموماشومانو لپاره د روزنتونوچارې په غاړه واخلې . اروپايې هيوادو ته دماشومانوناوړه حالات يو ټکان وو،دوی مجبوره شول د تنکي ځوانانو پالنې لپاره قوانين رامنځته کړي . په شلمه پيړۍ کې د ماشوم ټکې يو شي د ځان ساتنې لپاره ګڼل کيده، دماشومانو حالت داسي وه چې دوی بايد ځان د راتلونکې لپاره د يو بالغ انسان په څير په خپله ورسوي.
د دوهمي نړيوالې جګړې د پای څخه راورسته د ماشومتوب په اړه د نوې پوهی په رامنځته کيدو سره نوې لارې چارې خلاصي شوي .ماشومانو ته د نامکمل لويانوپه څير نه کتل کيده، بلکې د يو انسان په څير چې هغه د ژوندپه يو خاص او ارزښتمن پړو کې قرار لري کتل کيدل . ماشومان د خپلې ارادې او حقوقي معملاتو په سرته رسوولو کې محدود حقوق لري .دوی خاصي پالنې ته اړتيا لري ،له دې سره بايد د دوی خپل شخصيت ته درناوې وشي او جدې وګڼل شي . ماشومان دحقوقو خاوندان دي .دوی يواځې دلويانو د پريکړو او د مامعلاتو شيان نه دي . دا د حکومتونو دنده او مسووليت دی چې ماشومانو ته انساني درنښت او د ښه ، سوليزه ژوندشرايط برابر کاندي .


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دماشومتوب په اړه دغې نوې تاریخي پوهی پر بنسټ په نړۍ کې سوکه سوکه دماشومانو لپاره نړیوال ستندردونه،معیارونه او د کوچینیانو دحقوقو کنوانسیونونه رامنځته شول .
د ماشوم د نړیوالې ورځ تاریخ د تیري پیړې له شلموکالونو څخه پیل کیږي .د اکوم اروپا یي لودیځوال هیواد نه بلکې د ترکیې هیواد وو، چې په ۱۹۲۰ کال کې په نړۍ کې د لومړنۍ ځل لپاره د ماشوم ورځ ولمانځله .
دیرش کله ورسته په ۱۹۵۴ د م م د ماشومانو نړیوال مرستندویه ورکشاب وړاندیز وکړو چې د نړۍ هر هیواد باید دماشوم نړیواله ورځ ولمانځې .
دماشومانو د حقونونړیواله اعلامیه د ۱۹۵۳ کال د نوامبر په شلمه نېټه د نړیوالې ټولنې لخوا تصویب شوه .
م م هر کال په رسمې توګه د ماشوم نړیواله ورځ د نوامبر په شلمه نېټه لمانځې . دا تاریخ د م م له خوا په ۱۹۵۹ کال کې د ماشومانو د حقوقو د بیان په اړه او په ۱۹۸۹ کال کې د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون له خوا ټاکل شوي دی . دغه ورځ باید لویانو ته په یاد ورکړي چې ځان د ماشومانو دحقوقو او اړتیاو سره بلد کړي .د ماشومانو نړیواله ورځ د ماشومانو د ژوندانه حالت زموږ مخې ته ږدې .دغه ورځ د نړۍ پرټولو ولسونو غږ کوي چې د تاسو په هیواد کې د ماشومانو حقوق شته ؟ دماشوم حقوق څومره پلې شوي او څومره نه دی .دغه ورځ لمانځل دماشومانو حالت ته د ټولنې او دولت پام اړول و په مانا ده .
د نړۍ هرهیواد لپاره دماشوم نړیواله ورځ لمانځل په دغه پاس یاد شوي تاریخ کې حتمي نه ده . ډیرهیوادونه ځان ته یوه د ماشوم نړیواله ورځ لري . اوس د نړۍ په ۱۹۲ هیوادو او ډیرو ملتونو کې په کال کې یو وار د ماشوم نړیواله ورځ لمانځل کیږي .
په افغانستان کې د د ولت له خوا دغبرګولي په یولسمه نیټه د ماشومانو نړیواله ورځ لمانځل کیږي . که څه هم دماشوم نړیواله ورځ د یو شمیر نورو ورځو په څیر نمایشي بڼه لري خو د دغې ورځ لمانځل د ماشومانو په روحیه او روزني باندې ښه اغیز درلودلې او په دې توګه ماشوم په ټولنه کې دیو شخصیت احساس کولې شي . په ټولنه کې دماشوم دنړیوالې ورځې لمانځل دبشري حقوقو په اړه د سیاسي مبارزو یوه ورځ ګڼل کیږي .

## ۲ . د نړۍ د ماشومانو د حقوقي حالت

د ماشوم حقوق د بشر حقوق دي او ټولوماشومانو ته یوشان دي ،دا مهمه نه ده چې د ماشوم پوستکې کوم رنګ لري ، په کومه ژبه باندې خبري کوي ،کوم مذهب او کولتور پورې اړه لري، موراو پلار یې بې وزلې او که شتمن دي .ماشوم معیوب ،معلول او که روغ رمټ دي . دنړۍ ټول ماشومان مساوي حقوق لري .
په ګرده نړۍ کې تر دوه میلیاردو څخه ډیر ماشومان اوسیږي چې ډیر یې په درندو کارونو بوخت دي د زده کړو څخه محرمه دي ،د روغتیایي اسانتیاوو نشتوالې ،د خوارځواکې ،تشدداو ناوړو استفادو سره مخامخ دي .
موږ اوس د نړۍ په سولیزه پیر کې ژوند نه کوو،د ځمکې پر مخ اټکل ۵۰ کړکېچنې سیمې شتون لري چې په هغه کې خلک له یوبل سره وسله واله مبارزه کوي . دجګړو ډیره برخه په افریقا،اسیا او سویلې امریکا کې تر سره کیږي .ان داروپا په بالقان او پخوانې شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې وسله وال کړکېچونه شته دي . د جګړو اکثره قربانیان ملکیان دي .ماشومان په جګړو کې بالکل بې ګناه انسانان دي . په جګړو کې کوچینیان سره له دې د نورو خاصو ګواښونو سره مخامخ دي . دیرش میلیونه ماشومان په جګړیزو سیموکې ژوند کوي . دوه میلیونه ماشومان په دا ورستې یوه لسیزه کې وژل شوي اوشپږ میلیونه ماشومان ډیرسخت ټپي شوي دي ، بې شماره ماشومان خپل ټول عمر د جګړو په ناوړه روحې اغیزوا و خاطرو کې ،په روحې ویره کې ژوندکوي . دوی د جګړو څخه زړوبوګنوونکې تجربې او خاطرې لري . ماشومان د جګړو پرمهال د جګړه یزو عملیاتو او بې رحمه بمباریو له ګواښ سره هم مخامخ دي . ډیري ماشومان په جګړو کې وژل شوي یا سخت ټپي شوي دي او د ډیرو کوچینیانو مور او پلار او د کورنې نور غړیې وژل شوي دي .
دنویو اټکلونو پر بنسټ تر ۱۵۰ میلیونه انجونې او تنکې ځوانان د ۵ څخه تر ۱۴ کالونو درانده کارونه کوي .
په ۱۹۸۹ کال دنوامبر په شلمه نېټه ملګروملتو په یوه عمومي غونډه کې د ماشومانو حقوق په یوه کنوانسیون کې سره راغوند کړو. دغه کنوانسیون دولتونه مجبور کړل چې په خپلو ملي قوانینو کې د ماشومانو نړیوال منلې شوي قوانینو او حقوقو ته دروناوې وکړي .
د م م له خوا دماشومانو د حقوقو ا کنوانسیون چې ۵۴ مادې لري ،د نړۍ ۱۹۲ هیوادو لپاره اټکل دوه میلیارده ماشومان په کې اوسیږي تصویب شوي .
دما شوم د حقوقو کنوانسیون په خپلو ۵۴ مادو کې هڅه کړي چې د ماشوم د سیاسي مدني حقوق ،کولتور ي، اقتصادي،ټولنیزه حقوق په یوه نړیوال تړون کې سره تنظیم کړي . د ماشومانوسره مرسته او ساتنه له یوې خوا له بلې خوا حکومتونه مسوول ګڼې چې هره هڅه وکړي ترڅو ماشومنو ته یو انساني سولیزه ژوند اسانتیاوې برابري کړي .
په ۱۹۸۹ کال کې اټکل د نړۍ ټول هیوادو دم م د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون لاسلیک کړي .
د م م د کوچنیانو د حقوقو تړون یو له هغو تړونونو څخه و،چې ډیر ژر د نړۍ هیوادو لخوا تصویب شو .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سومالیا او امریکا د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون نه دی لاسلیک کړي ،لومړی هیواد د کورنیو جګړو له امله او دوهم هیواد یعنی امریکا له دې امله چې ماشونانو ته د مرواو پلار په کچه ډیر حقوق ورکړل شوي نه یې لاسلیک وي .

د ماشومانود حقوقو کنوانسیون په لومړۍ ماده کې داسي لیکي شوي دي چې هر هیواد په خپله دا ټاکي تر کومه عمره یو انسان ماشوم دی . همدا ماده بیا لیکي چې نورمال له اتلس کلن څخه د ټیټ عمر انسان ماشوم دی . اټکل ۲۵۰۰۰۰ کوچنیان په ۲۵ هیوادو کې په وسله والو ډلو او پوځونو کې دنده تر سره کوي .

جنسي تیرۍ د ماشومانو تښتونه اوقاچاق په دغه کړکیچنو سیموکي د ورځې یوه نورمال خبره ګرځیدلي ده .

دماشومانود حقوقو کنوانسیون په اته دیرشمه ماده کې لیکل شوي دي ،یو ماشوم چې جګړې ته لیږل کیږي او یا اجازه لري ، لږ تر لږه باید پنځه لس کلن وي . په ۲۰۰۰ کال د مې په ۲۵ نیټه د م م عمومي غونډه کې د یو بل خاص پروتوکول له لارې تصویب شول چې ماشومان د اتلس کلنې ټیټه عمر څخه اجازه نه لري چې جبري پوځي خدمت جلب شي .

په نویموکلونو کې ماشومان او تنکي ځوانان په جګړو کې ډیر زوریدلي دي او له دوی څخه جګړه مارو په وسله والو کړکیچونو کې د مرستندویه او یا د لویانو په جګړوکې د سرتیرو دنده ترسره کړي ده .

د نویو ځیړنو پر بنسټ په ټوله نړۍ کې ۱۰۱ میلیونه ماشومان له ښوونځیو څخه بې برخې دي . بیا هم د دوی له دریو څخه دوه برخې ماشومان په هغه هیوادو کې چې د وسله وال کړکیچونه سره مخامخ دي اوسیږي لکه په افریقا او اسیا کې .

د نویو شمیرو له مخې هر کال ۸،۸ میلیونه کمکیان دعمر په لومړی کال کې مرې . د ماشومانود مړینې اصلي لاملونه تداوي کیدوونکي ناروغي لکه د انتي بایتیک نشتوالي، د سینه بغل او ناست ناستي ناروغیی دي . دکتلوي معافیت پروګرامونه او واکسینونه د ډیرو نور ناروغیو په مخنیوونه کې ستره ونډه لري ،دبیلګې په

ډول د ګوزڼ یاپولیو د ناروغی په مخنیوي کې د عامه پوهاوي له لارې ستر رول لوبولي شي . یواځې په صابون دلا سونو منیځلو سره شل په سلو کې د ناروغیو مختیونه کیدا ي شي .

۳ . د افغان ماشوم حقوق په ورستیو دریولسیزو کې

**د افغان ماشومانو د بشري حقونو وضعیت تر بل هر هیواده اوهرې ټولنې څخه ډیرناوړه لیدل کیږي .**

د افغان ماشومانو حقوقي ،ښووني او روزنې ،ټولنیز او اقتصادي ناوړه وضعیت د هرې ورځې په تېرو سره په خرابیدو دي . په ټولیز ډول د نورو هېوادونو د ماشومانو په پر تله د افغان ماشومانو وضیعت ډېر خراب دی .

ماشومانو زموږ په ټولنه کې خپل ارزښت،درناوي او حقوق چې دوی سخته ورته اړتیا لري لا تر اوسه نه دي تر لاسه کړي . زموږ په ټولنه کې ماشومانو ته درناوي ، د دوی غوښتنو او حقه حقوقو ته هیڅ ځای نشته .

د ماشومان د ژوند حق ،د روغتیا حق، د زده کړه حق ،د ناوړو استفادو او له زورزیاتي څخه په امن کې ساتني حق، دبیان ازادي حق ،دمالوماتو لاسته راوړل او په مهمو پریکړو کې دبرخي در لودلو حق یا ریښته لري .

هیڅ اجازه نشته چې ماشومان جبراً هغو کارونو ته وهڅول شي چې دوی ته جسماً او روحاً زیان رسوي . افغان ماشومان له دغو حقوقو څخه بې برخې دي او دوی له دغو ټولو ګواښونو سره مخامخ دي . همدا غوټې د سبا ورځې ګلان دي او زموږ راتلونکې د وی په لاس کې دی .د افغانستان راتلوونکې د یو جګړه ځپلې نسل په لاس کې لویږي ،د داسې یو جګړه ځپلې نسل پریکړې عواقب به زموږ راتلوونکې لپاره ډیر ګران تمام شي .

د م م د ماشومانود اداري یونیسف یو مامور افغانستان یې د یو ماشوم لپاره د نړۍ تر ټولو ناوړه ځای وباله .
دا مهال په افغانستان کې لسګونه زره ماشومان د ژوند له سختو جګړیزو شرایطو سره لاس او ګریوان دي . دوی درنده او شاقه کارونه ترسره کوي، له زده کړوڅخه لري ساتل شوي دي او دغه راز په ځینو مواردو کې له نورو ناوړیخوالو او زور زیاتي سره هم مخامخ کیږي .هغه کوچنیان چې په زده کړه بوخت دي د دوی دزده کړو کمیت او کیفیت تر پوښتنو لاندې دی . په زرهاوملکی بیګناه افغانان د ناټو ځواکونو له خوا د بې رحمه ړندو بمباریو له کبله د هیواد په مختلفو سیمو کې په شهادت رسیدلي دي چې ډیرې کوچنې ماشومان او ښځې دي .

په افغانستان دکومو ماشومانو حقوق دخاصې پاملرنې او ساتنې لومړیتوب لري، په خواشینې سره باید وویل شي، چې افغانستان د یتیمانو کور دی ،افغانستان یو بې شمیره لښکر دبې وزلو، معصومو یتیمانو لري . یتیم هغه څوک دی چې یو او یا دواړه مور او پلار یې مړ شوي وي .

دافغان ولس شهیدانو ته په کتوسره ښایي دیتیمو ماشومانو شمیره ډیره لوړه وي تر هغې چې موږ یې اټکل کوو. دیتیم ماشومانو او د غیر یتیم ماشومانو سره چلند په ټولنه کې باید د خاصو مسلکي میتودونو له لارې ترسره شي .ټولو ماشومانوته باید په درنه سترګه وکتل شي اومساوي حقوق ورته ومنل شي ،تر څو د یتیمو کمکیانو دمایوسي پولې ړنګې شي . د افغانستان دکوځې ماشومانوستونزې او همداسې د نالوستو او کارګرو ماشومانو او هغه ماشومان چې پر دوی د ښوونځې لارې بندې شوي دي د لومړیتوب رښته لري .



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په هیواد کې بیوزلي او خوندیتوب د نشتوالي له امله ماشومان له میندو سره په محبسونو کې ژوند کوي . د بندي میندو کوچینیانو له محبسه د باندې په ټولنه کې په ډیره سپکه سترګه کتل کیږي . دغه کوچینیان په محبس کې له مجرمانو او قاتلینو سره یو ځای او د دوی په منځ کې لویږي .
په افغانستان کې د کوچني عمرونوانجونو او هلکانو ودول ،درانه کارونه ،د ښوونې او روزنې څخه محروم ،د امنیت له لوري نه خوندیتوب له دغو ټولو ناوړو حالاتو څخه افغان ماشومان ډیر سخت کړیږي او ځوریږي .
په اروپا، استرالیا او امریکا کې د میشتو افغانانو کوچینان چې د نسبي حقوقو څخه برخمن هم دي . دوي بیا د خپلو کوچینیانو د راتلوکې په اړه اندیښنه لري . د دوی ماشومان د مورنۍ ژبې له لیک او لوست ، د افغان کولتور او تاریخ له زده کړې څخه لرې پاتې دي . ماشومان د خپلو سالمو دودونو او د افغانیت منلي شوي ارزښتو نو څخه لري پاتې شوي دي . افغان ماشومان د لودیدیځ ډیریدونکي ځایي کولتور خپلولو ته اړویستل شوي دي .
افغانستان د نړۍ ترټولویو خوار هیواد دی .دلته ډیر ماشومان مجبوره دي چې د خپلې کورنیو لپاره یو ډوډې مړی او پیسې راوګتي . د دولت ظرفیتونوته په کتو سره دولت لپاره ډیره ګرانه ده چې د ماشومانو د حقوقو ساتنه وکړي . په دغه هیواد کې هڅې هم خلک بې کچې ددولت له پامه غورځیدلي دي په تیره بیا ماشومان . په افغانستان کې د بیلابیلو لاملونو له امله ګڼ شمیر ماشومان له ډیرو ستونزو سره لا س او ګریوان دي .
د بشر د حقونو د دفاع اداري په ځانګړي ډول د ماشومانو د حقونو څخه د دفاع اداري وایي، چې په وسلوالو او ځان وژونکو حملو کې سلګونه افغان ماشومان وژل شوي او ډېر نور یې هم ټپیان شوي دي . م م وایي، تېر میلادي کال په افغانستان کې د جګړو په بهیر کې تر ۱۰۰۰زیات ماشومان وژل شوي او یا هم ټپیان شوي دي.
د ماشومانو لپاره د م م د مرستو ځانګه یونیسف له خولې، په افغانستان کې د شاوخوا یو میلیون ماشومانو او نیم میلیون میندو ژوند له ګواښ سره مخامخ دی . یواځې په پاکستان او ایران کې د افغان کډوالو ۱،۵ میلیونه برخه ماشومان جوړوي .
د م م دماشومانو اداري د شمیرو له مخې ،په افغانستان کې په هرو زرو زیږیدلو ماشومان کې ۱۶۵ یې د زیږیدنې پرمهال مري او له هرو پینځو ماشومانو څخه یو د پینځه کلنۍ عمر ته د رسیدو څخه مخکې مري .
د لندن میشتې واچ لیسټ یا د وسلوالو پیښو او جنګ ځپلو ماشومانو د خوندیتوب د څار اداري یو رپوټ خپور کړی لیکي ، په ۲۰۰۹ کال کې ۱۰۵۰ ماشومان په جګړیزو پیښو کې وژل شوي دي او همدارنګه ۳۴۶ نور یې یوازې د بهرنیو ځواکونو د شپې او هوایي عملیاتو په نتیجه کې وژل شوي دي . په دغه رپوټ کې راغلي دي، چې دوه لکه نور افغان ماشومان په جګړو کې معیوب شوي دي .
رپوټ زیاته وي، په جګړیزو سیمې کې په سلو کې ۴۳ ماشومان له روغتیایي او ښوونیزو اسانتیاوو څخه بې برخې دي .
د افغانستان په قانون کې د ماشومانو د ژوند په خوندیتوب ټیګار شوی او په لاره کې په وروستیو کابو لسو کلونو کې، دولتي او غیردولتي موسسو یولړ پروګرامونه هم پیل کړي او له زرګونو بې کوره او بې وزلو ماشومانو سره یې، د زده کړی او کار په برخه کې مرستې کړې دي، خو د دولتي ارګانونو رسمي شمیرې وایي، چې په هېواد کې د وزګارو ماشومانو شمېر میلیونونو ته رسیږي او دوی په لږ وخت کې نه شي کولی، چې له ټولو سره مرستې وکړي خو هڅې یې پیل کړي دي، چې په مرکز او ولایتونو کې د دوی له کورنیو سره مرستې وکړي، ترڅو ماشومانو ته د قانوني کار او زده کړې شرایط برابره شي .

د افغانستان قوانینو د ماشومانو د حقونو ساتني پالني په اړه تینګار کوي ، خو په خواښیني سره دغه قوانینو یوازې د کاغذ پر مخ لیکل شوي دي . د قوانین د عملې کیدو لپاره اراده نشته . د قانون د عملې کیدو لپاره کومه پریکنده پریکړه او پیاوړې غورځنګ نشته .
له درې لسیزو جګړو ورسته ډیري زموږ ماشومان اغیزمن شوي دي، نو په کار ده چې زموږ ټولنه او دولت ماشومانو ته جدې پاملرنه وکړي . ترڅود ماشومانو روح او روان نوره اغیزمن نه شي، ماشومان د هیواد راتلونکي جوړونکي دي، موږ ټول باید په ګده هڅه وکړو، دماشومانو د حقوقي وضیعت د ښه کولو لپاره عملي ګامونه پورته کړو.
دډیرو ماشومانو ته د جګړو څخه ورسته ګواښ لا هم شتون لري ،د دوی ژوند او روغتیا د پاتې شویو وسلو ،ګلولیو اوپټ خښ شویو مینونه له ګواښ سره مخامخ دی . دوی تل په ډار او ویره کې ژوند کوي ، کله چې دوی د ډوډې موندلو او اوبه راوړلو پسې وځې او یا کله چې دوی لوبې کوي او ښوونځې ته په لاره کې وي .
د افغانستان په پلازمینه او د ولایتو په ښارونو کې چې هلته نسبې سوله شته ، په سلګونه داسې کوچینیان تر سترګو کیږي، چې دوی هره ورځ په درندو او سپکو کارونو بوخت دي .ځینې ماشومان سر لوڅې او تورې پښې په واټونو،لارو کوڅو کې سوالګر ي یاد سپیلنې په دودولو بوخت دي ، ځینې د کثافاتو او بې کاره او چټلو شیانو او توکیو په راټولو بوخت دي ، ځینې ماشومان د سړکونو په واټونو کې موټرو منیځې . ځینې د غالیو اوبدلو په کارخانو کې کار کوي ، له ځینوڅخه د نشه یی توکو په قاچاق کې ناوړه ګټه اخیستل کیږي، دکوچینیان قاچاق او


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تښتونه .داسي نوري بيګي شته چي دهيواد راتلونكي نسل هره ورځ ګواښوي . په افغانستان كي د بيلابيلو لاملونو له امله ګڼ شمير كمكيان له ډيرو ستونزو سره لا س او ګريوان دي .
ماشومان په جګړه يزو سيموكي له ټولو حقوقو څخه محرومه دي . د دوی ښوونځي سوځيدلي او يا د جګړو له امله تړلي دي . د هيواد په دننه كي د جګړو له امله كورني له ماشومانو سره بي ځايه شوي دي .
يونيسف د ۲۰۱۰ كال راپور چي د سلواغي مياشتي په شپاړسمه نيټه خپور كړي او دا شميريي د ټول افغانستان په كچه برابر كړی دي . ليكي ، په افغانستان كي د وچكالي او د خوراكي موادو د كمښت له وجي شاوخوا يو ميليون او دوه لكه هغه ماشومان چي عمرونه يي له پنځو كلونو ټيټ دي او دغه راز پنځه لكه او پنځوس زره امیند واري ميندي له كم خوراكي او نورو بيماريو سره لاس او ګريوان دي .

### ۴ . لنديز :

**زموږ مدني ټولني ته په دې ورستيودريو لسيزو كي بي شميره مادي او معنوي زيانونو د رسيدو په لړ كي ماشومانو ته تر هرچا زيات زيانونه وراوښتي دي . موږ بايد دافغان بی ګناه ماشومانو د حقوقو ساتنه د جګړو په لمبو كي هم وكړو. دافغانستان خلک او د ولت بايد د هيواد په كچه د بي وزلو ماشومانو حقوقو اوزده كړي ته په بيړني توګه خاصه پاملرنه وكړي. تر څو دوی له خپلو بنسټيزو،انساني او ټولنيزوحقوقو څخه برخمن شي**
زموږ ماشومانو د هيواد د ننه او بهر دكډوالي ډيري ستونزې ګاللي دي، د جګړو په بهير كي ډير ماشومان د ميندو او پلارونوله ميني ، پاملرني او دخپل پلارني هيواد څخه بي برخي شوي دي ،دزده كړي او لوبو له حق څخه جګړييزو حالاتو بي برخي كړي دي .
د ديرش كلني جګړي په بهير كي د پرله پسي تكرار ريدونكي جګړيزو ناورينونو ژوري اغيزي او تاوانونه زموږ د راتلونكي نسلونو لپاره ستري ستونزې ساتلي دي .
همداوس په افغانستان كي د وسله وال مقاومت جګړه يزه كرښي د ديرش كلني جګړي له لومړنی نسل ماشومانوڅخه ډكي دي . دا اوسني لويان جګړه يواځيني لار د افغان ولس د حقوقو او خپلواكي د بيرته لاسته راوړلو لپاره ويني . د سولي او دخبرواتري په سوليزه لار كي يو لامل يا خنډ همدا د ديرش كلني جګړي ماشومان كيداي شي . د دوی فكرونه او كړه وړه او ټولنيزې اړيكي له ماشومتوب څخه د كلاشينكوف په كولتور كي وده كړي .
د افغانستان دژغورني اوږدمهال مخوو لپاره زده كړه يوه كونجي ده ، زده كړه يوه ښه نړی رامنځته كوي . په افغانستان كي په ميليونو زده كوونكي د جګړو له امله د زده كړو څخه بي برخي دي . زده كړه يواځني توكي د لوړي اوفكري بي وزلي په وړاندي ده .
په خوابنيني سره بايد وويل شي چي هيڅ څوک نه شي كولي او د حقوقي پلوه هيڅ كومه داسي قانوني لار او توكي نشته چي دهغه حكومتونه په وړاندي حقوقي دعوا پيل شي ، دا هغه حكومتونه دي چي د ماشومانو د حقوقو كنوانسيون هر پنځه كاله لاسليک وي او لاسليک كوونكي دولتونه د ماشومانو د حقوقي وضيت په اړه خپل رپوټ د م م يونيسف ته هم وړاندي كوي ،سره له دی بيا هم دولتونه د ماشومانو حقوق ته پام نه كوي او پرليپسي د ماشومانو حقوقو تر پښو لاندي كوي .
زما په اند دهغو حكومتونو په وړاندي چي دماشومانو حقوق څخه سرغړونه كوي او يا لږڅه تر سره كوي يواځيني د فشار توكي د خلكو فكرونه او عام ولس دی چي د ټاكنو څواک ورسره دی . تر څو چي د ماشومانو حقوق پلي كړي او د دوی د روزني ،پالني او ساتني مسووليت په غاړه واخلي . لكه خپلواک اورګانونه ،اجيوګاني، ديني علما،د بشر د حقوقو فعالين،ډليزه رسنی ،ملي او نړيوال موسسات دي چي په حكومتونه باندي فشار راوستي شي .په ټوليز ډول يوه سالمه ملكي ټولنه كولي شي په دې خورا مهم برخه كي مهم رول ولوبوي .د ماشومانو د حقوق لپاره بايد ولسيز غورځنګونه رامنځته شي . تر څو دولسي جرګي له لاري د ماشومانو دحقوقو قانون تصويب شي او د ماشومانو د حقوقو څخه د فاع مستقله اداره رامنځته شي او همداسي د هيواد په اساسي قانون كي د ماشومانو حقوق نور واضع تعريف ، تصويب او څارنه يي وشي . دولت او ټولنه بايد هڅه وكړي تر څو د ماشومانو حقوق په اساسي قانون كي خوندي وساتي او پلي كړي .
يوازي اقتصادي پرمختګونه نه شي كولي چي هرڅه ته بدلون وركړي، زموږ ټولنه د ماشومانو د حقونو د ساتني ،پالني او روزني په برخه كي بنسټيزو بدلونونو ته اړتيا لری .
**ماشومان له دومره ستونزو سره سره څنګه كولای شي، چي په راتلونكي كي د جګړه ځپلي افغانستان په بيارغونه كي لكه څنګه چي تمه كيږي ګټور تمام شي**
افغان دولت بايد د افغان ماشومانو د ژغورني او ساتني لپاره جدي او اوږد مهالي پروګرامونه پيل كړي .
دهيواد په ليري او جګړه يزو سيمو كي بايد د افغان كوچنيانو د ژغورني او ملاتړ لپاره افغان دولت مخكي له دې چي ناورين خپل ورستي كچه ته ورسيږي، پر ښه ميكانيزم او پروګرامونو باندې كار پيل كړي .
هيڅ څوک د افغان ماشومانوګونګه چيغه نه اوري ،اجازه نشته چي دغه چيغه همداسي غلي پاتي شي . پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رالېږلو مخكې په خير و لولئ